دټاکنوخپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

## تعدیل

# د ولسمشري د نوماند د مرستیال یا مرستیالانو د وفات، انصراف، په صعب العلاجه ناروغي باندي د اخته کیدو او د مرستیال یا مرستیالانو په شرایطو د نه برابروالي د اثبات په صورت کي د نوي مرستیال یا مرستیالانو د معرفي لایحه

**اساس**

**لومړۍ ماده:**

دغه لایحه د ټاکنو د قانون د (۱۰۸) مادې د مندرجه حکم پر بنسټ، او د ۳۸ مادې د مندرجه حکم په پام کي نیولو سره د ټاکنو د خپلواک کمیسون (له دې وروسته د کمیسون) لخوا وضع شوي ده.

**موخه**

**دوهمه ماده:**

دغه لایحه د ولسمشري د نوماند د مرستیال یا مرستیالانو، د مړیني، انصراف، په صعب العلاجه ناروغي او یا په بله داسي ناروغي د اخته کیدو په صورت کي چي د دندي د اجراء په وړاندې خنډ شي او یا د ولسمشري د نوماند د مرسیتال یا مرستیالانو په شرایطو د نه برابروالي د اثبات په صورت کي. د ولسمشري د نوماند د مرستیال یا مرسیتالانو پر ځای د نوي مرستیال یا مرستیالانو د ور پیژندني د څرنګوالي پوري اړونده چاري د ولسمشري د ۱۳۹۸ کال په ټاکنو کي تنظیموي.

**د نوماندانو د وروستني نوملړ له خپریدو څخه مخکي انصراف**

**دریمه ماده:**

هر کله چي د ولسمشري د نوماند یو یا دواړه مرستیالان، تر هغي ټاکلي دورې چي په ټاکنیز تقویم کې وړاندوینه شوي، د ولسمشري د نوماند له مرسیتالي څخه منصرف شي، په شرایطو نه وي برابر، د ټاکنیزو شکایاتو د کمیسون لخوا حذف شي، وفات شي، په صعب العلاجه او یا په بله داسي ناروغي چي د دندي د اجراء په وړاندې خنډ وګرځي، د ولسمشري نوماند مکلف دی چي ژر تر ژره بل شخص یا اشخاص د خپل مرستیال یا مرستیالان په توګه کمیسون ته ور وپیژني.

**د نوماندانو د وروستني نوملړ له خپریدو څخه وروسته انصراف**

**څلورمه ماده:**

(1) د ولسمشري نوماند نه شي کولای چي د انصراف د دورې له تیریدو څخه وروسته خپل مرستیالان ګوښه او یا استعفاء ته اړ کړي.

(2) هر کله چي د ولسمشري د نوماند یو یا دواړه مرستیالان، د نوماندانو د وروستني نوملړ له خپریدو څخه وروسته وفات یا استعفاء وکړي، د ټاکنیزو شکایاتو د کمیسون لخوا له نوملړ څخه حذف شي، او یا په صعب العلاجه ناروغي باندي چي د دندي د اجراء خنډ بې وګرځي اخته شي، د ولسمشري نوماند مکلف دی چي ژر تر ژره له موضوع څخه په

د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

رسمي ډول کمیسون ته خبر ورکړي، او د ۷۲ ساعتونو په دننه کي باید بل په شرایطو برابر کس یا کسان د خپل مرستیال یا مرستیالانو په توګه له اړینو اسنادو سره یو ځای په لیکلي ډول کمیسون ته ور وپیژني.

(3) کمیسون ته د ورپیژندو او اسنادو تسلیمولو پرمهال، د ولسمشري نوماند خپله د نوي مرسیتال یا مرستیالانو ملتیا کوي.

(4) نوی مرستیال یا مرستیالان، فقط په هغه صورت کي ټاکل او ور پیژندل کیدای شي، چي هغه حالات چي د دې مادې په (۲) فقره کې وړاندوینه شوي د ټاکنو له نېټې څخه (۲۲) ورځي مخکي واقع شي.

(5) هر کله چي د کمیسون د دوه ورځنی څېړني په پایله کي، نوی مرسیتال د کمیسون لخوا په شرایطو برابر ونه پیژندل شي، نوماند فقط یو ځل کولای شي چي نوی مرسیتال د کمیسون د تصمیم له اعلان څخه وروسته د ۷۲ ساعتو په ترڅ کي کمیسون ته ور وپېژني.

(6) د ولسمشري نوماند، مکلف دی چي د خپل نوي مرستیال یا مرستیالانو پوره پیژندګلوي د ټولیزو رسنیو له لاري د خلکو تر غوږونو ورسوي.

(7) په هغه صورت کي چي د یو نوماند مرستیال یا مرستیالان د انصراف له دورې وروسته انصرف وکړي، د ولسمشري د بل نوماند د مرستیال په توګه تعین او پیژندل کیدلای نه شي.

(8) هغه مرستیال چي: په شرایطو د نه برابروالي، د ټاکنیزو شکایاتو د کمیسون له خوا د حذف کیدلو، او یا د ناروغی له امله د ولسمشري د نوماند له مرستیالي څخه ګوښه شوی وي، د ولسمشري د بل نوماند د مرستیال په حیث تعین او پیژندل کیدلای نه شي.

## اعتراضونو ته رسېدنه

### پنځمه ماده:

(1) کمیسون د (۲) ورځو په جریان کي، د نوي مرستیال یا مرستیالانو اسناد له اړوند طرزالعمل سره سم، څیړي او د نوي مرستیال یا مرستیالانو پیژندګلوي خپروي.

(2) اشخاص، سیاسي ګوندونه او نور بنسټونه، د نوي مرستیال یا مرستیالانو د پیژندګلوي له خپریدو څخه وروسته د (۳) کاري ورځو په دننه کي، د هغوی د شرایطو د نه برابروالي په وړاندي اعتراض درجوي.

(3) د ټاکنیزو شکایاتو کمیسون د وخت محدودیت ته په کتو، د اعتراضونو د وخت له پای ته رسیدو وروسته د اعتراضونو په وړاندي خپل تصمیم د (۳) ورځو په دننه کي، له کمیسون سره شریکوي.

(4) په هغه صورت کي چي نوی مرستیال، په شرایطو نه وي برابر، د ولسمشري نوماند زیات نه زیات په ۴۸ ساعتونو کي، د وروستي ځل لپاره کولای شي چي بل په شرایطو برابر شخص ور وپیژني، چي په دې صورت کي د دې مادې په (۱، ۲، او ۳) فقرو کي مندرج احکام او د دغي لایحې د څلورمي مادې په (۳) فقره کي مندرج احکام د تطبیق وړ دي.

(5) په هغه صورت کي چي د دوهم ځل لپاره هم د نوماند نوی مرستیال په شرایطو نه وي برابر، د ولسمشري د څوکۍ نوماند مستعفی ګڼل کیږي او رای یې په ګټه د محاسبې وړ نه دي، او کمیسون له دې موضوع څخه خلک خبروي.

دټاکنوخپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

## ځانګړي حالات

**شپږمه ماده:**

(1) هر کله چې د دغې لایحې د څلورمې مادې په (۲) فقره کې مندرج حالات، د ټاکنو له ورځې تر ۲۲ ورځو څخه د کمو ورځو په جریان کې ( له ۱ تر ۲۱ ورځو د ټاکنو له ورځې مخکې) واقع شي، کمیسون د حالاتو په پام کې نیولو سره د نوي مرستیال یا مرستیالانو د ور پیژندلو په هکله ور تصمیم نیسي.

(2) په هغه صورت کې چې د نوماند نوی مرستیال یا مرستیالان په دوو پړاونو کې په شرایطو برابر ونه ګڼل شي، کمیسون کولای شي د حالاتو او د ټاکنو تر ورځې د باقي پاتي وخت په پام کې نیولو سره د نوي مرستیال یا مرستیالانو د ور پیژندلو په هکله تصمیم ونیسي.

## د ټاکنو په ورځ، د ټاکنو له تر سره کیدو وروسته او د ټاکنو د وروستنیو پایلو تر اعلان مخکې، د نوماند د مرستیال یا مرستیالانو انصراف یا وفات کیدل

**اوومه ماده:**

هر کله چې د ولسمشري د نوماند، مرستیال یا مرستیالان، د ټاکنو په ورځ او یا د ټاکنو له ورځې وروسته او د ټاکنو د ورستنیو پایلو تر آعلان مخکې، له ټاکنو منصرف او یا وفات شي، په هغه صورت کې چې نوماند د ټاکنو وړونکی شي، د ولسمشر مرستیال له اساسي قانون سره سم تعینیږي.

## له قانون سره مطابقت

**اتمه ماده:**

د دغې لایحې هیڅ حکم، د نافذه قوانینو له احکامو سره په ټکر کې تعبیر او تفسیریدلای نه شي. د ټکر په صورت کې د اړونده قوانینو احکام د اجراء وړ دي.

## انفاذ

**نهمه ماده:**

دغه لایحه د تصویب له نېټې څخه وروسته نافذه او خپریږي.